هفته واره رساله

د امیرِ اهلسُنّت تقریباً 34 کاله مخکښینې (1992) بیان

# د اهلِ بیتو رضی الله عنهم فضیلتونه



- د اهلِ بیتو رضی الله عنهم نه مُراد څوک؟
- په وجه وَنه کښې تازه کجورې
- 25 کرته پیدل حج
- د عقیدت د اِظهار بهترینه ذریعه


شیخ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العالیه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د اهلِ بیتو عَلیهمُ الرّضوَان فضیلتونه

دُعائے عطّار: یا رَبَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله "د اهلِ بیتو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَانْ فضیلتونه" ولولي یا واوري هغه د اهلِ بیتِ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَانْ په فیضان ښه مالا مال کړې او هغه سره د مور او پلاره او خاندانه بے حسابه اوبخښې-اٰمِیْنْ بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

## د دُرُود شریف فضیلت

د حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: اِذَا نَسِیْتُمْ شَیْئًا فَصَلُّوْا عَلَیَّ تَذْکُرُوْهُ اِنْ شَآءَ اللّٰه یعني کله چې ستاسو نه څۀ څیز هیر شي نو پۀ ما باندې دُرُود رالیږئ اِن شاءَ الله رایاد به شي درته- (القول البدیع، ص427، حدیث:53)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مُحرم شریف یوه مقدسه او د حُرمت والا میاشت ده او د دې په لسم تاریخ ډیرې تاریخي واقعې شوې دي، خاص طور په 61 هجرئ کښې د عاشورې [یعني د لسم محرم] ورځ د یادګار په توګه ډیر خلق نمانځي او د نذر او نیاز په ذریعه د اهلِ بیت اَطهار عَلَیْهِمُ الرِّضْوَانْ د پاره د خصوصي اِیصالِ ثواب انتظام کوي- د اهلِ بیت اَطهار د شان نه د خلقو د خبرولو د پاره په جوماتونو کښې محفلونه کولے شي- د اهلِ بیتِ اَطهار د شان به څۀ وائې! د اعلیٰ حضرت اِمام اهلسُنَّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ورور جان، مولانا حَسَن رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د اهلِ بیتو په شان کښې ډیر ښکلے منقبت لیکلے دے، کوم چې زما ډیر خوښ دے ځکه چې د هغوئي کلامونه هم بالکل د شریعت مطابق وي، د برکت حاصلولو د پاره د هٰغه منقبت یو څو شعرونه پیش کولے شي:

باغِ جنّت کے ہیں بہرِ مدح خوانِ اہلِ بیت
تم کو مژدہ نار کا اے دُشمنانِ اہلِ بیت

ان کی پاکی کا خدائے پاک کرتا ہے بیاں
آیۂ تطہیر سے ظاہر ہے شانِ اہلِ بیت

ان کے گھر میں بے اِجازت جبرئیل آتے نہیں
قَدر والے جانتے ہیں قدر و شانِ اہلِ بیت

رَزم کا میداں بنا ہے جلوہ گاہِ حُسن و عشق
کربلا میں ہو رہا ہے اِمتحانِ اہلِ بیت

اے شَبابِ فَصلِ گُل یہ چل گئی کیسی ہوا
کَٹ رہا ہے لہلہاتا بُوستانِ اہلِ بیت

کس شَقی کی ہے حکومت ہائے کیا اندھیر ہے! دن دِہاڑے لُٹ رہا ہے کاروانِ اہلِ بیت
خُشک ہو جا خاک ہو کر خاک میں مِل جا فُرات خاک تجھ پر دیکھ تو سُوکھی زبانِ اہلِ بیت
تیری قدرت جانور تک آب سے سیر اب ہوں پیاس کی شدت سے تڑپے بے زبانِ اہلِ بیت
فاطمہ کے لاڈلے کا آخری دیدار ہے حَشر کا ہنگامہ برپا ہے مِیانِ اہلِ بیت
وقتِ رخصت کہہ رہا ہے خاک میں مِلتا سُہاگ لو سلامِ آخری اے بیو گانِ اہلِ بیت
بے ادب گستاخ فرقہ کو سنادے اے حَسَن! یوں کہا کرتے ہیں سُنّی داستانِ اہلِ بیت

(ذوقِ نعت، ص103100)

اے د اهلِ بیتو عاشقانو! الله پاک پهٔ قرآنِ عظیم کښې د اهلِ بیتِ اَطهار تعریف فرمائیلے دے او د هغوئي پهٔ شان کښې یې دا آیت مبارک نازل کړے دے:

اِنَّمَا یُرِیۡدُ اللّٰهُ لِیُذۡهِبَ عَنۡکُمُ الرِّجۡسَ اَهۡلَ الۡبَیۡتِ وَ یُطَهِّرَکُمۡ تَطۡهِیۡرًا ﴿۳۳﴾ (پ22، سورۂ الاحزاب:33)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: الله خو هُم دا غواړي چې تاسو نه هره ناپاکي لرې کړي او ښه صفا سوتره مو پاک کړي-

حضرت عَمرو بن سُلَیم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: دا آیتِ تَطهیر (یعنې د پاکۍ بیانونکے آیت) د اُمُّ المُؤمِنِین حضرت اُمِّ سَلمه رَضِیَ اللهُ عَنۡها پهٔ کور کښې نازل

شو او کله چې دا آيت مبارک نازل شو نو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضراتِ حَسَنينِ کريمَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهما او بي بي فاطِمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡها راوغوښتل، دا درې واړه يې په يو څادر مبارک کښې پټ کړل او دُعا يې اوکړه: اے اللّٰه! دا زما اهلِ بيت دي، د دوئي نه نجاست لرې کړې او دوئي پاک او صفا کړې- هُغه وخت مولا مشکل کُشا عَليٌّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ د رحمتِ عالم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شا مبارکې ته وو- (ترمذی، 141/5، حدیث:3216 ملتقطاً)

## د اهلِ بيتو نه څوک مُراد دي؟

د اهلِ بيتو نه څوک مُراد دي؟ په دې باره کښې حضرت مولانا سَيِّد محمد نعيمُ الدِين مُراد آبادي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: د دې نه مُراد اُمَّهاتُ المُؤمِنِين، بي بي فاطمه، مولا علي او حَسَنين کريمين رِضوانُ اللّٰہ علیهم دي- (تفسير خزائن العرفان، پ22، الاحزاب، تحت الآية:33، ص780)

د "آيهٔ تَطهير" طرف ته په اِشاره کولو مولانا حَسَن رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه څهٔ ښه فرمائيلي دي:

ان کی پاکی کا خدائے پاک کرتا ہے بَیاں
آیۂ تطہیر سے ظاہر ہے شانِ اہلِ بیت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ اَفضليَّت کښې ترتيب

**اے د اهلِ بيتو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَانۡ عاشقانو!** د چا شان چې دا وي چې د هغوئي کور ته حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام هم بے اِجازته نهٔ ځي، د هغوئي سره خلقو ښکه سلوک اوکړو! د دُنيا محبت، دُنيا پرستي او د خپل اِقتدار د بچ کولو د پاره پهٔ هغوئي باندې ډير ظلمونه اوکړے شول-

د حَسَنينِ کريمين رَضِيَ اللهُ عَنۡهُما مرتبه ډيره اوچته ده خو زمونږ د اهلِ سُنَّت پهٔ نزد د مرتبې پهٔ لحاظ سره ترتيب څهٔ داسې دے:

حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ټول صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنۡهُم اعلیٰ او ادنیٰ (او پهٔ هغوئي کښې ادنیٰ څوک هم نشته ) ټول جنتيان دي، وروستو د انبياؤ او مُرسَلِين علَيهِمُ السَّلام نه، د الله پاک پهٔ ټول مخلوقاتو کښې د اِنسانانو او پيريانو او فرښتو نه افضل صدِّيقِ اکبر، بيا عمر فاروقِ اعظم، بيا عثمانِ غني، بيا مولیٰ رَضِيَ اللهُ عَنۡهُم دے، کوم اِنسان چې مولیٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د (حضرت) صِدِّيق يا د فاروق اعظم رَضِيَ اللهُ عَنۡهُما نه افضل بيانوي، ګمراه او بد مذهبه دے- د څلور واړو خلفائے راشدينو نه پس د باقي عشره مُبَشَّره او حضرات حَسَنين رَضِيَ اللهُ عَنۡهُما او اصحابِ بدر او اصحاب بيعة الرضوان رَضِيَ اللهُ عَنۡهُم د پاره افضيلت دے- (بهارِ شريعت، 241/1، 249، 254 حصّه:1)

## د حَسَنينِ کريمينو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهما شان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! کوم بنده چې (اللّٰه پاک ته) څومره هم محبوب وي د هغه اِمتحان هم هُغه همره سخت وي څومره چې درجې زياتيږي اِمتحان هم هُغه همره سختيږي، پۀ دې باندې ځان داسې پوهه کړئ چې د اول، دويم، دريم، څلورم او پينځم جماعت اِمتحان دومره سخت نۀ وي څو د ميټرک او د دې نه پس د راتلونکو کلاسونو اِمتحان ډير سخت وي داسې چې څومره کلاس لوئي کيږي اِمتحان هم هُغه همره سخت او ګرانيږي او بيا چې د ګران اِمتحان نه پس کوم سَنَد ميلاؤيږي د هغې اهميت هم هُغه همره زيات وي- د حضراتِ حَسَنينِ کريمَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهما اِمتحان هم ډير سخت وو او هغوئي پۀ خپل اِمتحان کښې کامياب شول- اللّٰه پاک حضراتِ حَسَنينِ کريمَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهما ته ډير لوئي شانونه عطا کړل، د هغوئي پۀ شان کښې ډير روايتونه او اِيمان تازه کوونکې واقعې دي، د برکت حاصلولو د پاره پۀ هغې کښې يو څو وړاندې کولے شي:

## د ژړا پۀ اواز اوريدو يې تشريف راوړلو

پۀ ماشومتوب کښې يوه ورځ د سَيِّدُ الشُّهَدا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ د ژړا اواز چې کله رحمتِ عالَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واوريدو نو هغوئي د سَيِّدَه فاطِمَةُ

الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا خوا له تشریف راوړلو او وه یـې فرمائیل: لورې! دا مۀ ژړوه ځکه چې د دۀ د ژړیدو سره زما زړۀ ته تکلیف رسي- (معجم کبیر، 116/3، حدیث:2847 ملتقطاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** حضراتِ حَسَنینِ کریمَین رَضِیَ اللہُ عَنۡہما د اللّٰه پاک پۀ دربار کښې ډیر زیات مقبول وو او د اللّٰه پاک خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هُم د هغوئي سره بے حده محبت فرمائیلو، د دواړو حضراتو ژوند د اللّٰه پاک او د هغۀ د خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ تابعدارۍ کښې تیر شو،لهٰذا چې کوم مسلمان د عقائدو د صحیح والي سره سره د دې دواړو شهزادګانو سره پۀ حقیقي معنو کښې محبت کوي اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! د هغۀ به هم مزې شي-

## پۀ وچه ونه کښې تازه کجورې

**اے د اهلِ بیتو** عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان **عاشقانو!** حضراتِ حَسَنینِ کریمَین رَضِیَ اللہُ عَنۡہما پۀ پرهیزګارۍ او سخاوت کښې هم مثال نۀ لرلو، د دې سره سره دا حضرات د کراماتو خاوندان هم وو یو ځل حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د سفر پۀ وخت د کجورو پۀ یو داسې باغ تیریدلو د کوم ونې چې وچې شوې وې، حضرت عبدُ اللّٰه بن زبیر رَضِیَ اللہُ عَنۡہما هم پۀ دې سفر کښې د هغوئي سره وو، حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پۀ هغه باغ کښې پړاؤ اوکړو، خادمانو د یوې

وچې ونې د لاندې د ارام کولو د پاره د هغوئي بستره خوره کړه، حضرت عبدُ الله بن زُبير رَضِیَ اللهُ عَنْهما عرض اوکړو: اے د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم نمسيه! کاش چې پۀ دې ونه کښې تازه کجورې وے نو مونږ به پۀ مړه خِيټه خوړلې وے، پۀ دې اوريدو حضرت اِمامِ حَسَن مُجتَبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پۀ ورو دُعا اوکړه د کومې پۀ برکت چې پۀ لږ ساعت کښې هٰغه وچه ونه شنه شوه او هغې تازه پخې کجورې اوکړې- دا منظر چې يــې وليدو نو شُتُربان (يعنې د اوښانو ساتونڪـې) ووئيل: دا هر څۀ د جادو پۀ وجه دي، حضرت عبد الله بن زبير رَضِیَ اللهُ عَنْهما هغه ورټلو او وه يــې فرمائيل: توبه وباسه ، دا جادو نۀ بلکې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د شهزاده مقبوله دُعا ده- (شواهد النبوة، ص227 ملتقطاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دومره عظيم الشان حيثيت لرلو باوجود به حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د الله پاک نه ډير زيات ويريدلو

## د حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرياد او زاري

حضرت حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه شپه ما پۀ خانۀ کعبه کښې عبادت کولو چې ما يو کَس وليدلو کوم چې پۀ کمبل کښې خپل مخ پټ کړے دے او د کعبةُ الله شريف پۀ دروازه باندې داسې ژړې او دُعا کوي

لکه څنګه چې څوک ډېر ګنهګار یا د چا نه چې څۀ لویه ګناه شوې وي او هغه د هیبت نه ژاړي او توبه کوي- بهر حال هُغه ګَس تړوله شپه مخ پۀ کمبل کښې پټ کړے وو او ژړل یې- ما وکتل چې د دې خوار نه څۀ لوئي جُرم شوے دے او زما پۀ هغۀ باندې ډېر زړۀ خوږ شو- کله چې هغه تللو نو زما نۀ برداشت نۀ شوه، ما هغۀ ته اواز اوکړو او وه مې وئیل: اے وروره! لږ خپل مخ خو راته وښایه او خپل نوم راته هم ووایه د پاره د دې چې زۀ ستاسو د پاره د بخښنې دُعا اوکړم- زما خبره چې یې واوریدله نو هُغه ګَس ودریدو، هغۀ د خپل مخ نه څادر لرې کړو او اِرشاد یې وفرمائیلو: زما نوم حَسَن دے- حضرت حَسَن بصري رَحمَةُاللهِ عَلَیه اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللهُ عَنهُ پیژندلو، څنګه چې یې مخ ولیدو نو یو دم حیران شو چې دا خو سَیِّدُ الاَسخِیا، راکِبِ دوشِ مصطفٰے، د احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسے اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللهُ عَنهُ دے- حضرت حَسَن بصري رَحمَةُاللهِ عَلَیه فرمائي: زۀ پښیمانه شوم او ورمنډې مې کړې او د هغوئي پۀ ښپو پریوتم او عرض مې اوکړو: حضور! تاسو د دومره لوئي کورنۍ سره تعلق لرئ او ستاسو د تقویٰ او د عبادت د شان به څۀ وایم! د دې باوجود تاسو دومره فریاد او زاري کوئ! پۀ دې اوریدو حضرت اِمامِ حَسَن مُجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنهُ یو ځل بیا سلګو ونیولو او پۀ ژړا ژړا یې وفرمائیل: اے حَسَن بصري! دا هُغه دربار دے چرته چې لوئي لوئي خلق پۀ خپل قدم

اینبودو ویریږي- زما نیکه بابا جان، رحمتِ عالمیان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به زما مور بي بي ته داسې اِرشاد فرمائیلو: اے فاطمې! دا مهٔ ګڼه چې تهٔ زما لور یې بلکې عمل کوه، عمل کوه، عمل کوه- اے حَسَن بصري! ځان ښه پوهه کړه چې سَیِّدَۃُ النِّساء، د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سترګو تور، سَیِّدَه فاطِمَةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ته د عمل حاجت دے نو بیا زهٔ څهٔ حیثیت لرم؟ حضرت حَسَن بصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: پهٔ ما باندې د حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خبرو ډیر اثر اوکړو، زما د خُلې نه چغه وختله او زهٔ بے هوشه شوم او پهٔ زمکه راپریوتم، کله چې پهٔ هوش کښې راغلم نو حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ واپس تشریف وړے وو- (اوراق غم، ص298 ملتقطاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سَیِّده فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہا ته دا فرمائیل چې "عمل کوه" پهٔ اصل کښې د عمل تاکید او ترغیب دے ګڼي پهٔ یو روایت کښې دي چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د اهلِ کبائر (یعني د کبیره ګناهونو کوونکو) شفاعت فرمائي- (ترمذی، 198/4، حدیث:2444 ماخوذاً) چې د کبیره ګناهونو کوونکو شفاعت به کوي نو بیا به خپل اهلِ بیت څنګه پریږدي؟ د اهلِ بیتِ اَطهار شان خو دا دے چې زمونږ پهٔ شان ګنهګاران به د هغوئي د رحمت پهٔ جولۍ کښې پناه اخلي- یاد

ساتئ چې د چا څومره لوئې شان وي هغه عمل هم هٰغه همره ډېر کوي- بهر حال د اُمت د پاره تاکید دے چې هغوئې دې په یو حالت کښې هم د نیک اعمالو نه غفلت نهٔ کوي-

## 25 کرته پیدل حج

حضرتِ اِمامِ حَسَن مُجْتبیٰ او حضرتِ اِمامِ حسین رَضِیَ اللہُ عَنْہما 25 کرته پیدل حجونه کړي- (مستدرک، 160/4، حدیث:4841 ، معجم کبیر، 115/3، حدیث:2844)

## د سورلۍ لرلو باوجود پیدل ولې؟

حضرت اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته چا عرض اوکړو: د سورلۍ لرلو باوجود تاسو پیدل ولې ځئ؟ نو هغوئې اِرشاد وفرمائیلو: ما له شرم راځي چې زهٔ د خپل مالِک او مولا د دربار طرف ته په سورلۍ ځم- (معرفة الصحابة، 7/2، حدیث:1769 ملتقطاً)

## غلام یې ازاد کړو

یو ځل حضرت اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خپل خادم ته د خوراک راوړو حکم اوکړو، هغه چې خوراک راوړو او د هغوئې خوا ته راورسیدو نو په اتفاقي توګه یې تیندک ووهلو چې له وجهې یې هٰغه خوراک د

حضرت اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ جامو باندې توی شو او د هغوئي جامې پرې سخا شوې- هٔغه خادِم پهٔ قرآنِ پاک باندې پوهيدو ځکه د هغهٔ پهٔ خُله باندې دا آيت مبارک جاري شو: ﴿ وَالْكٰظِمِیْنَ الْغَیْظَ وَ الْعَافِیْنَ عَنِ النَّاسِؕ ﴾ (پ4، سورۂاٰلِ عمرٰن:134) [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ” او غصه څښلو والا او خلق معاف کوونکي دي-“ يعنې د مؤمِن شان دا دے چې هغه معاف کوونکے وي نهٔ چې د موقعې پهٔ لټون کښې وي چې څنګه هم موقع ميلاؤ شي نو فوراً بدله واخلي لکه څنګه چې زمونږه طريقه ده که چرې مونږ ته چا د دريو خلورو کسانو پهٔ مخکښې ستغې سپورې ووئيلې نو مونږ د زرو [1000] خلقو پهٔ مخکښې د هغهٔ د ذليله کولو کوشش کوو خو زمونږه د دِين بزرګانو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم به د خپل ځان د پاره د چا نه بدله نهٔ اخستله- بهر حال کله چې خادم د دې آيت تِلاوت اوکړو نو هٔغه وخت د حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ خُله مبارکه باندې جاري شول: قَدۡ عَفَوۡتُ عَنۡكَ يعنې ما تهٔ معاف کړې- خادم چې دا واوريدل نو د آيت مبارک اخري حصه يې تِلاوت کړه: ﴿ وَ اللّٰهُ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۳۴﴾ ﴾ (پ4، سورۂاٰلِ عمرٰن: 134) [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ” او الله نيکانو خلقو سره محبت فرمائي-“ پهٔ دې

باندي حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائيل: اَنْتَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللهِ يعني تهٔ د الله پاک د رضا د پاره ازاد يې- (تفسير روح البيان، پ4، اٰلِ عمرٰن، تحت الآية:134، 2/95 ملخصاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې د جامو سخا کيدو باوجود حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خپل خادِم سره څومره ښه سلوک اوکړو- غور اوکړئ! که زمونږ سره څوک نوکر يا ملازم دغره وخوري نو زمونږ د خُلې نه فوراً داسې جُملې ووځي: " ړوند يې څهٔ؟ پهٔ قلار نهٔ شې تللے؟ اخر دومره تادي څهٔ وه؟ تا زما جامې خرابې کړې وغيره وغيره-" بعضې خانان پهٔ داسې موقع باندې دوه درې کنځلې هم کوي او داسې که ملازم ګنهګار وي او که نهٔ خانان ضرور ګنهګاريږي- وګورئ چې زمونږه د دِين بزرګان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡھِم به څومره اخلاقي وو چې حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپل خادِم له د هغهٔ د جرم څومره ښکلې سزا ورکړه چې هغه يې ازاد کړو- الله پاک دې مونږ د دې پاکو هستيانو پهٔ فيضونو او برکتونو باندې مالا مال کړي-

اٰمِيۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

**اے د اهلِ بيتو عَليهِمُ الرِّضوَان عاشقانو!** حضرت اِمامِ حَسَن او حضرت اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُما دواړه شهزادګان د ډير زيات عظمت والا وو او د هغوئي اِمتحانونه هم ډير سخت واخستلے شول،

## پهٔ زهرو ورکولو شهيد کړے شو

حضرتِ امامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ له زهر ورکړے شو او شهيد کړے شو، د هغوئي د صبر او زغم دا حالت وو چې هغوئي د اخري وخته پورې د زهر ورکوونکي نوم وه نهٔ ښودلو- ولې چې ګواهي ضروري ده او که چرې ګواه پيش نهٔ کړے شي نو په چا باندې فردِ جرم نهٔ لګي، دې وجې نه پهٔ چا باندې د زهرو ورکولو الزام نشي لګيدے بهر حال حضرت اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د زهرو ورکوونکي نوم وه نهٔ ښودلو چې هسې نهٔ داسې وشي چې زهٔ پهٔ خپل خيال نوم واخلم او هغه زهر نهٔ وي راکړي نو هغه ته به بغير د څهٔ وجهې نه سزا ورکړے شي او اخر حضرتِ اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ شهيد شو-

## د حضرت علي اصغر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ شهادت

د کربلا د نورو شهيدانو سره د کربلا پهٔ ميدان کښې وړوکے علي اصغر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هم موجود وو، د کوم عمر چې هُغه وخت 6 مياشتې وو او د تندې پهٔ وجه د هغوئي خُله وچه شوې وه، خو د يزيد پهٔ لښکر باندې د زړهٔ سخت والے غالب شو او پهٔ هغوئي کښې يو ظالم بے رحمه حرمله بن

کاهل نومې ګس غشے وویشتو پۀ کوم چې د وړوکې علي اصغر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حلق ولګیدو! هغوئي یوه سلګئ ووهله او شهید شو- (اوراقِ غم، ص487)

دیکھا جو یہ نظارا، کانپا ہے عرش سارا
اصغر کے جب گلے پر ظالم نے تیر مارا
اے زمینِ کربلا یہ تو بتا کیا ہو گیا
ننھا علی اصغر تیری گودی میں کیسے سو گیا

آه! څومره عجیبه نظاره وه چې د شپږو میاشتو ماشوم هم نۀ پریښودے کیږي! اِمام عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته به پۀ دې څومره تکلیف رسیدلے وي! نور دا چې اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپل ځلمے ځوي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم شکل حضرت علي اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ، خپل ورارۀ حضرت قاسم بن حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما او خپل دوه خوریونه حضرت محمد او حضرت عَون رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما د خپلو سترګو د وړاندې پۀ شهید کیدو ولیدل بلکې ټول خاندان یې د سترګو د وړاندې پۀ شهید کیدو ولیدلو-

## د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهادت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دومره غمونو سره سره چې لوږه او تنده هم وې نو اِنسان بالکل ماتیږي خو د دې باوجود اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بالکل حوصله وه نۀ بائلله او د خپلې تورې ذُوالفِقار سره یې میدان

ته تشريف يوړلو او په دښمنانو باندې يــې حمله اوکړه، دښمنانانو په مينځ کښې راګير کړو او اخر سَيِّدُ الشُّهدا، راکبِ دوشِ مصطفٰے، د حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د زړهٔ ټوټې، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سترګو نُور حضرت اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په 10 مُحَرم شريف د جُمعې په ورځ د ماسپښين د نـمونځ نه مخکښې د دريو ورځو لوږې تندې تيرولو، د خپلو سترګو په وړاندې د خپل کور د ګُلونو په وينه او خاوره کښې په لَت پت ليدلو او د هغوئي د شهادتونو په غم کښې په زخمي حالت کښې زمکې له تشريف يوړلو- شِمر ذِي الجَوشَن د هغوئي په سينه مبارکه باندې کيناستو، نزدې وه چې هغهٔ د هغوئي سر مبارک د تن نه جدا کړے وے خو حضرت اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هغهٔ ته وفرمائيل: ما د خپل معبود په بارګاه کښې اخرئ سجدې ته پريږده- هغه د مبارکې سينې نه کوز شو او هغوئي سر په سجده شو، هم د سجدې په حالت کښې شِمر ذِي الجَوشَن د هغوئي سر مبارک د تن نه جُدا کړو- (الکامل فی التاریخ، 3/430، 432 ملتقطاً)

شمشیر بکف قاتل ہو کھڑا اور کوئی رہے سجدے میں پڑا
کہتی تھی زمینِ کرب وبلا اس شان کا سجدہ کھیل نہیں

اے د سَیِّدُ الشُّهدا، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ د عاشقیِ دعویٰ لرونڪو! د هغوئي نياز ښځپله او نورو خوړونڪو! تاسو چې د چا نياز د برکت حاصلولو د پاره خوری هغوئي په سجده کښې سر کټ کړے وو ځکه صرف نيازي مهٔ جوړیږئ بلکې نـمونځ گزاره هم جوړ شئ- ياد ساتئ چې د دِين د بزرگانو رَحمَۃُاللہِ عَلَیۡهِم د اِيصالِ ثواب د پاره چې کوم خوراک ښځولے کيږي هغې ته د احترام په توگه نياز وئيلے شي او په داسې وئيلو کښې په شرعي توگه هيڅ باک نشته بلکې بالکل جائز دے- د نياز خوراک هم د الله پاک په نوم وي خو که هغه د بزرگانو د ايصالِ ثواب د پاره وي نو هغې ته " نياز " او چې د عامو خلقو د ايصالِ ثواب د پاره وي نو " فاتحه[خيرات] " ورته وئيلے شي- مونږ د سَیِّدُ الشُّهَدا رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ نياز ښه په شوق سره خورو، شربت او ځښې اوبهٔ يې څښو خو نـمونځونه قضا کوو اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ درې ورځې د لوږې تندې سره شهيد شو خو د کربلا په ميدان کښې يې باقاعده نـمونځونه ادا کړل- اگر که اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ د اِمتحان په حالت کښې وو خو بيا هم په اخري وخت کښې هغوئي دُنيا ته درس ورکړو چې يزيد زما د سر ټيټولو کوشش اوکړو خو ما د خپلې کورنۍ ماشومان قربان کړل او د خپلې وينې اخري څاڅکے مې هم توئي کړو خو يزيد ته مې سر ټيټ نهٔ کړو بلکې د خپل رَبّ په دربار کښې ټيټ شوم-

**اے د اهلِ بیتو عَلَیهِمُ الرِّضوَان عاشقانو!** معلومه شوه چې مؤمِن د اللّٰه پاک نه علاوه چا ته هم سر نۀ ټیټوي، که هر څومره هم ظلم زیاتے ولې وه نۀ شي خو کامِل مؤمِن پۀ خپل ځان سمبالولو کښې کامیابیږي- بهر حال دا د اِمامِ عالي مقام، حضرت اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ برخه وه او د اللّٰه پاک ورکړه وه چې هغوئي پۀ اِمتحان کښې پۀ مکمله توګه کامیاب شو- مَعَاذَاللّٰه! که چرې اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د یزید بیعت کړے وے او هغۀ ته یې سر ټیټ کړے وے نو د راتلونکې اُمت د پاره به ظالِم ته سر ټیټول دلیل جوړ شوے وے خو هغوئي سر ټیټ نۀ کړو او هغوئي د حق اواز اوچت کړو د دې پورې چې شهید کړے شو او د همیشه ژوند یې وموندلو- اخر یو وخت هغه هم راغلو چې د یزید لښکر تالا ترغه شو او تباه او برباد شو او نن د هغه سره د همدردۍ کولو د پاره څوک هم تیار نۀ دي خو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د عقیدت شمعې نن هم کروړونه زړونه روښانه کړې دي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د دِین د پاره قرباني ورکړه او هغوئي خپل ځان او دولت بلکې ټوله کورنۍ د اللّٰه پاک پۀ لار کښې قربان کړه، مونږ د هغوئي د قربانو قیصې اورو، پۀ جوش

کښې راځو او نعرې وهو او بیا د دِین د کار کولو پۀ ځائے مطمئین کیږو او کښینو- دا د اللّٰه پاک کرم دے چې دِینِ اِسلام پۀ صحیح معنو کښې مونږ ته راورسیدو خو پۀ ورو ورو د دِین نه خلق لرې کیږي، که زمونږ دا حالت وي نو زمونږ د نسلونو به څۀ کیږي؟ ډیر ملکونه داسې دي کوم چې مخکښې د اِسلام مرکزونه وو خو کله چې مسلمانانو د غفلت نه کار واخستو، " دُنیا " یې د ژوند مقصد جوړه کړه او صرف هم د دُنیا عِلم یې حاصل کړو نو د دِین نه د لرې والي پۀ وجه هلته موجودو جوماتونو ته تالې ولګیدلې- نن زمونږه حالت هم څۀ داسې دے، مونږ هم صرف دُنیائي عِلم حاصلوو، مونږ ته شپږ کلمې بلکې اِیمان مفصل او اِیمان مُجمل هم یاد نۀ دي، نـمونځ کوو خو د نـمونځ فرائض راته معلوم نۀ وي، اودس کوو خو د اودس د فرائضو پته راته نۀ وي، دغه حال د نورو معاملو هم دے- د اولاد پۀ صحیح معنو کښې د تربیت نۀ کولو پۀ وجه حالات دا دي چې کوم پلار پۀ خوارئ لوئي کړے وو هٰغه ځوي د هغۀ جنازه نشي کولے ځکه چې هغه ماډرن دے، هغۀ له پۀ صحیح طریقه نـمونځ کول هم نۀ ورځي، هغۀ چرته پۀ هیره هم دې طرف ته پام نۀ دے کړے چې ما له د جنازې دُعا هم یادول پکار دي او هغۀ ته دا هم پته نۀ وي چې پۀ جنازه کښې څومره تکبیرونه وئیلے کیږي؟ ډیر خلق چې کله د جنازې کولو د پاره

ودرېږي نو خواران د سترګو په ګوټ کښې یو بل ته ګوري او جنازه پوره کوي او ځینې خواران د تکبیرونو په وخت د اختر په شان غوړونو له ګوتې وړي نو داسې بس په جنازه کښې په رسمي توګه شرکت کوي- د مړي د غسل هم ځه داسې حال دے چې په کور کښې د پلار مړے پروت وي خو ځوي ورله غسل نشي ورکولے ځکه چې هغه چرته زده کړي نه وي چې مړي له غسل څنګه ورکولے شي؟ پلار هم په ټول ژوند کښې ځوي له د مړي د غسل زده کولو ترغیب نه وي ورکړے او بیا خوار د مرګ نه پس د هغې د نتیجو سره مخ کیږي- وګورئ! که چرې ځوي پلار له غسل ورکوي نو د هغه په زړه کښې به ویره وي، غم به وي، درد به او د هغه به خواهش وي چې زه خپل والد له د ډیرو سُنّتو په خیال ساتلو غسل ورکړم ځکه دې مقصد د پاره به هغه د کتابونو نه د غسل طریقه زده کوي او د هغې مطابق به غسل ورکوي خو د دې اُلټا به بل یو ګس د سُنّتو دومره خیال نه ساتي- داسې که ځوي د پلار جنازه کوي نو د هغه د سترګو نه به د اوښکې هم بهیږي او د هغه په زړه کښې به غم او درد وي خو بَل څوک به د داسې درد او غم سره جنازه نه کوي-

## د عقیدت د اِظهار بهترینه ذریعه

اے د اهلِ بیتو عَلیهمُ الرّضوَان عاشقانو! اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسین رَضِیَ اللہُ عَنْهُ دې د

پاره قرباني ورکړه چې هغوئي د اِسلام باقي ساتل او د اِسلام وَنه شنه لیدل غوښتل خو افسوس چې مونږ پهٔ خپلو لاسونو باندې هر څهٔ خرابوو-


چرته چې زمونږ ټول تعلیم، ټول کاروبار او ټول علوم او فنون د دُنیا د پاره دي هلته اے کاش چې مونږ خپل لږ شان وخت د هغه اِسلام د پاره هم اوباسو د کوم د بچ کولو د پاره چې اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د " سَیِّدُ الشُّهَدا " لقب حاصل کړو او پهٔ خپلو وینو یې دا زرغون کړو-

اے کاش چې مونږ هم د خپلو بچو، خپل کور والؤ او کاروبار پریښودل زده کړو او د اِمام عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ نقشِ قدم باندې لاړ شو او مونږ هم د دِین د پاره سفر اِختیار کړو، د اِمامِ حُسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ایصالِ ثواب د پاره د الله پاک پهٔ لار کښې وتل دي، د سُنَّتو پهٔ لاره باندې تلل دي، ځپله هم سُنَّت زده کول دي او نورو ته هم ښودل دي- الله پاک دې مونږ ټولو ته د اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ نقشِ قدم باندې د تللو او د اِسلام د پاره د قربانو ورکولو جذبه راعطا کړي

اٰمِیْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د راروانې هفتې رساله





فيضانِ مدينه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ.

UAN +92 21 111 25 26 92  0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net